لیکونکی : ارکادی دوب نوب (Arkady Dubnov)
منبع اودخپریدو نیټه :«Russia opinion»( -2018-11-16)
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .
--------------------------------------------------------

# روسیه په ا فغا نستا ن کی څه لوبي کوی ؟

what game is Russia playing in Afghanistan ?

## روسیه غواړی چي په افغانستان کی دیو مهم لوبغاړي په توګه له سره خپل لوبی تکرارکړی

*Russia is seeking to re-assert itself as a major player in Afghanistan.*



سرګئی لاوروف، دروسی دباندنیو چارو وزیر دنومبر دمیا شتی په «نهمه» نیټه کی دافغانستان د صلح د پاره په کنفرانس کی د ګډون والو سره د یا دګا ری عکس اخلی [AP Photo / Pavel Golovkin] .

د روسی دولت د دی روانی میا شتی په لمړیو کی دا فغا نستا ن د سولی د رامینځته کید ولپا ره دیو پراخه کنفرانس کوربه وه کوم چی د طا لبا نواستا ذی هم په دی کنفرانس کی ګډون کړی وه چی وروسته بیا له هغه ، **سرګی لاوروف** د روسی د دولت دباند نیو

چارو وزیر د طا لبا نو درهبری غړو دا ستا ذ و په اړخ کی انځور هم واخیست.
یعنی د هغو کسا نو سره کوم چی په متنا قض بڼی سره هغوی لاتراوسه دروسیی په تروریستی فهرست کی قرار لری .
د روسیی دبا ند نی سیا ست مشتا قو نا ظرانو ته مشخص او روښا نه شول چي په دغه کنفرانس کی نه یواځی انځور یا تصویر اخیستنه وه بلکه په عمومی توګه سره اصلی موضوع دا دی چی **کرملین** د خپل لوړتیا غوښتنی په رڼا کی غواړی چی دمرکزی آسیا سهیلی برخی اوبیا په ځا نګړی بڼی افغا نستا ن ته د سیا سی لوبی دپلی کولو د پاره بیا له سره چمتوالی خپله کړي .
دبلی خوا څخه طالبانو هم ددی کنفرانس څخه ګټه ترلاس کړ یعنی چی بهره مند شول او هغه داچی هغوی د لمړی ځل د پا ره په داسی یو کنفرا نس کی ګډون کوی چی نوموړی کنفرانس د ملګرو ملتونو د ا منیت د شورا د یو دایمی غړی (روسی) په کوربه توب سره دایر کیږی . چی داپخپله طا لبا نو ته یوسیا سی امتیا ز دی .
لمړی قرار یا پروګرام دا وه چی دغه کنفراس د سپتمبر د میا شتي په څلورمه نیټه کی دایر شی ، اما اشرف غنی دافغانستان جمهور ریس پخپله د لاوروف څخه وغوښت چی دغه کنفراس تریوه بله نیټی پوری تر شا واچوی ، نوداسی ویل کیږی چی طا لبا نو کله چی له دی موضوع څخه خبر شو،غصه یی را وپا ریدل او دغیررسمی کا نا لونو دلاری څخه مسکو ته خپل دریځ روښا نه کړاو وویل که چیری دکنفرنس د دایرید و د نیټی تغیر دکا بل د دولت د فشا ر له امله مینځ ته راوړل شی نو په هغه صورت کی مونږ به په هغه کنفرانس کی ګډون نه کوو .
په دی وخت کی دروسی دولت حتی وروسته له دی چی د ***اشرف غنی*** دولت دغه نوموړی کنفرانس ته درسمی افغا نی هییت دلیږلوڅخه ډ ډه وکړ روسیه پریکړه وکړچی دغه کنفرانس بیا هم دایرکړي اوپه نها یت کی د روسی غوښتنه دا وه چی په ا فغا نستا ن کی د نظا می اصلی مخا لفینو د اصلی غړو سره په رسمی پیژند نی د ګډ همکا ریو جریا ن یا روند ته وده ورکړی چی د روسی هغه غوښتنه هم ترسره شو .

## په کال (1990) کی دطا لبا نو مشغولولونکی(Engaging) :

دا د نومبرد نهمی نیټی د لمړنی ځل کنفرانس نه دی چي روسا نو او طا لبا نو د بحث اودمرکی د پا ره سره چمتو اوهمغا ړی کیږی . بلکه دا وسله وال ډ لی په کال (1995) کی چی دافغانسان دسهیلی حوزی ډیری برخي لکه کندها ر پخپلو ولکه کی لرلی ډیر مشتا ق او ما یل وه چي د روسیی سره اړیکی برقرار کړي .
دا همغه کال وه چی ما داسی فرصت ترلاسه کړچی ا فغا نستا ن ته لاړم اود طا لبا نو درهبری دځینوغړوسره می له نژدی ملاقات وکړ، د همغه کا ل د اګست میا شت کا ل (1995) دروسیی یو با روړونکی الوتکه د طا لبا نودیو جنګی الوتکی په واسطه سره

مجبورشو چی دکندها ر په بین المللی هوایی ډګر کی کیښینی کوم چی په همدی وخت کی د طا لبا نو رهبری اویا مسولو مقا ما تودوخت په استفا دی سره روسی مقا ما تو ته یو پیا م وا ستول.

زه پخپله دروزنامه نګارانو له ډلی څخه یوروسی خبرنګار اوم چي طا لبا نوماته اجازه راکړ چی دروسی الوتکی د محبوس کړ شوی پیلوت سره له نژدی ووینم اوما ته په عین زما ن اووخت کی داسی فرصت هم ترلاسه شو چی د طا لبا نو درهبری ځنو غړو سره هم ووینم دهغو درهبرانو څخه یو کس چی دیو قوما ند ان په معا دل موقف او دند ه درلود له ماڅخه وغوښت چی دهغی ،هغه ځا نګړی غوښتنه روسی مقا ما تو ته ورسوم کوم چی نوموړی پخپل دغه غوښتنه کی هیله څرګند کړی وه چی دهغه فرش کړل شوی ما ینونو نقشه چی روسا نو په کال (1980) دخپل نظامی مداخلی په وخت په قندهار کی کرلی وه طا لبا نو ته را وسپا ری .

بی ویلو دی پا تی نشي چی د طا لبا نو اودروسا نو ترمینځ لمړنی غیر رسمی پیټ اړیکی د کا ل (1990) په دوهم نیمیا یی لیسزو کی برقرار شول ، یعنی هغه وخت چی د مجاهید ینو دولت په کا ل (1996) رانسکور شو او طا لبا نو له روسیی څخه وغوښتل چی دهغوی دولت په رسمیت سره وپیژنی ..

په پای کی د طا لبا نو اود مسکو ترمینځ اړیکي د دی موجب شو چی په عشق آباد د ترکمنستا ن په پلازمینه کی دمرحوم **صفر مرات نیا زوف** په هڅی او کوربه توب سره د مسکو اود طا لبا نو د پلا وی ترمینځ پټ لید نه او کتنه ترسره شول .

په دی وخت کی دروسیی پلاوی دطا لبا نود پلاوی سره په ملاقا ت کي ، د طا لبا نو استا زی له روسی غا ړی څخه وغوښتل چی په ملګرو ملتونو کی د طا لبا نو د دا یمی نما ینده څخه ملاتړ وکړی یعنی چی هغه استا زی په رسمیت سره وپیژنی کوم چی هغه وخت دغه مقا م یا څوکی دا فغا نستا ن درانسکورشوی جمهور ریس **برها نید ین ربا نی** ته د هغه د یو مخلص افغا ن په اختیا ر کی وه .

د روسیی دولت دطالبانو دپلاوی دغه غوښتنه دځنو دلایلو په نظر کی نیولو سره بی ځای اویو غیر عملی غوښتنه وګڼل یعنی چی د طالبا نو دغه غوښتنه رد کړ چی بیا وروسته له هغه د طا لبا نو اود روسا نو ترمینځ لید نه کتنه تر سره نشول .چی ا لبته په نها یت کی دروسا نو دغه پریکړه ( یعنی چی روسا نو د طا لبا نو غوښتنه رد کړ ) پخپله یو لوی د ډیپلوما تیک اشتبا ه او خطا وه ، اودا بلکل روښا نه وه چی د طا لبا نو رهبری په هغه زما ن کی ډیر ما یل وه چی که وشی کړی ( طالبان په هغه موده کی لکه دیخوا په شان دروسانو سره خصومت نه درلود ) مسکو د خپلو مقا صد و اود ګټو دتا مینولو د پا ره پخپل څنګ کی ولری .

اما په هغه وخت کی دروسیی دولت دمجاهید ینو دولت ته د**برهان نید ین «ربا نی»** په

مشری ، **احمد شاه «مسعود»** اود **گلبد ین «حکمتیا ر»** سره د اړیکوسا تلو ته په نسبت ددی چی د طا لبا نو سره کوم چی هغوی د پا کستا ن د (آي اس آی) له خوا ملاتړ کیږی لمړیتوب ورکړی .

دا پخپله له امکان څخه لیری نه دی اوهغه داچي د طا لبا نو سره د روسيي د دولت د اړیکو د نه سا تلو یوه پا یلی ممکن دا اووسی چی طا لبا نو ترهگری خواته مخه کړ اودهغو د افراطی کید و یوه عا مل به همدا هم وی چی دهغوی دولت په بین المللی ډګر کی نور هیواد ونه په رسمیت ونه پیژند ل او طا لبا نو هم په دوامدار توګه سره **اسا مه بن لادن** دالقاعدی رهبر ته کوربه توب وکړ یعنی د هغه چا کوم چی د سپټمبر د« 9/11» د تاریخی حملی مسول کس وګڼل شو .

روسیه د (2010) کال په نیمایی کی وروسته له هغه چی دروسیی اودمتحده ایالاتو منا سبا ت دسوریی د جنګ په اړین له دی نه چی روسیه په هغه هیواد کی د سوریی ددولت په غوښتنه په عملیا تونو با ندی لاس پوری کړ خړ وپړ شو اوهم د سوریی څخه جنګیا لی افغانستا ن خواته مخه کړل ، په دی لته کی و شو چی د طالبانو سره اړیکی له سره برقرار کړی .

## دروسیی نوی یا بیا له سره ستراتیژی په افغانستان کي :

روسیه د اوږدی مودی څخه د ا فغا نستا ن په ا ړه د پا م وړ ښکا ره سیا ست په نه لرلو سره مسکو په پای کي پریکړه وکړه چی د ا فغا نستا ن په روانو چا رو کی ځا ن شریک کړی او نور بی تفا وت پا تي نشي ، په مینځنی ختیځ کی دروسیی ونده اخیستنه هغه ته دا ډاډ ورکړ چی روسیه یو ځل بیا د نړی د منطقی په نورو هیوادونو او له هغه جملی څخه د ا فغا نستا ن له چا رو او تحولاتو څخه له نژدی با ید څا رنه وکړی یا د حالاتو په روند کی ونډه واخلی .

د روسیی زیاتی اندیښنی د امنیت پوری اړونده دی اوداځکه چي د افغانستان په شما لی ولایتونو کی د ترهګری فعا لیتونه مخ په زیا تید و دی او د پخوانیو شوروی جمهوریتونو لکه د تا جکستا ن اود ازبکستا ن امنیتی حالات دګواښ سره مخامخ نشی نو په همدی بها نه اود یو څه اغراق اوزیا ت وینو سره د دی احتما ل وړل کیږی چی روسیه په مینځنی آسیا کی د خپل نظا می حضور په لته کی اووسی .

په عین وخت کی مسکو غواړی چي په افغانستان کي دسولی راوړنکی اوجوړونکی رول ولوبوی ترڅو چي له دی پلو دامریکی سره په اړیکو کی ګټه ترلاسه کړی یعنی طا لبا نو کوم چی **د «اشرف غنی»** د دولت پر ضد مبا رزه کوی چی د متحده ایالاتو یونژدی متحد دولت دی ، مسکو پریکړه کړی چي په ا فغا نستا ن کی د دغه روانی شخړی او د منا زعی په حل وفصل کی یو مهم لوبغاړی شي . یعنی په داسی یو هیواد کی کوم چی دمختلفو سیمیزو قوتونو په شمول دامریکی دپام یو وړ هیواد دی چي په

دی ترتیب سره که مسکو وشی کړلی چی د موضوع په یوه بل اړخ کی لوبی ترسره کړي او له دی لاری څخه خپل اړیکی له امریکی سره تا مین کړی .
په افغانستان کی د سولی د راوستو هلی او ځلی بریا لیتوب بی دامریکی دهمغا ړیتوب څخه چی دخپل نژدی متحد ( نا تو) سره په ګډه په افغانستان کی نظامی حضور لری او داشرف **غنی** حکومت سا تی نا شونی او نا ممکن دی .
کرملین پوهیږی اوپه ښکاره توګه سره هڅه کوی چی د مسکو دکنفرانس په چوکاټ کي د طا لبا نو سره په مرسته او همکاری کی حد اکثر ګټه ترلاسه کړي .
دروسیي دسولی نوښت بی دامریکی دمتحده ایالاتو له ګډون څخه هومره زیات قابل دملاحظی به نه وی دا هغه څه دي چی د طا لبا نو رهبران پخپله هم په پوره توګه پوهیږی او یا له موضوع څخه باخبر دی چی د مسکو د نهمی نیټی د کنفرانس څخه وروسته د طا لبا نو استا ذی بیا له سره تا یید کړل چی دوی د واشنګټن سره د خبرو اترو لپا ره چمتو دی تر هغه چی امریکا یا نو له ا فغا نستا ن څخه خپل نظامی ځواکونه زر تر زره وبا سی اود هغو ی د وتلو لپا ره مهال ویش اعلان کړی نوتر هغه وخته پوری دوی به داشرف «غنی» سره کوم چی د هغه دولت د متحده ایالاتو په لاس یو ګوډاکی دولت دی مستقیم خبرو ته به نه کیښینی.
مسکو ته د طا لبا نو د سفرهد ف نه یوازی د هغو د دریځ بیا له سره تکراره ول وه بلکه دوی همدارنګه امریکا یا نو ته وښودل چی که چیری امریکا خپل تعهد ترسره نکړی طا لبا نو بل « الترنتیف» یا بد یل هم لری اوهغه دا چی د امریکی د سیا ل ځواک څخه یعنی دروسیي څخه سیا سی اوحتی نظا می مرستی تر لاسه کړی .
په لویدیځ کی داسی ا ند یښنی او یا نګرانی شته چی مسکو طا لبا نو ته پوځی توکي لیږی هغه څه چی لا تراوسه په مطلق بنی سره په دی برخه کی کره شواهد په لاس کی نشته په داسی حا ل کی چي طا لبا نو ته دروسیي دوسلو لیږد په اړه د راپورونو اعتبار دپوښتنی لاندی دی او هغه څه چی تایید شوی هغه دا دی چی روسیه کولای شی چی خپل رهبری متقاعد کړی چی د نومبر د نهمی نیټی غونډی ته دپوځ دپخوانیو دروازو د پکار وړلو له لاری را ننوځی.
په هرصورت ممکن دی چی طا لبا نو زر تر زره پوه شی چی دوی دسولی په خبرو کی د ښکیلتیا لپا ره د متحده ایالاتو زیا ت فشا رته اړتیا نه لری یعنی چی امریکا یا ن نشی کولی چی طا لبا ن په زوره مجبورکړی چی د سولی خبرو ته کیښینی .
دامریکی د متحده ایالاتو جمهور ریس **دونالد ترومپ** مجبور شوی چی خپل پخوانی ژمنی ته بیرته راواوړی کوم چی خپل سرتیری له ا فغا نستا ن څخه کورته را وغواړی لکه هغسی چی د پنتا ګون د فشا ر له امله ا فغا نستا ن ته نور اضا فی سرتیری لیږلی وه اما دهغه ستراتیژی کیداشی چی په ا فغا نستا ن کی داولسمشری ددومی دوری په نیمیایی تولتاکنو کی بدلون وومومی اوداځکه چي هغه د امریکی د اولسمشر په حیث د خپل ځان

*دبیا نوما ن  یا ټا کلو څخه نا امید شوی دی  اما  ددی دپاره  چي هغه درای اچونکو رای ترلاسه کړی نو هغه د خپل  بریا لیتوب  د پا ره  با ید  چی  یو لوی د بیپلوما تیک  لاره غوره کړی اوهغه داچی  د خپل ضروری  کامیا بی ته درسید و لپا ره   د طا لبا نو سره په دی توافق ورسیږی چی خپل نظا می قوتونه  له ا فغا نستا ن څخه  خارج کړی .*



***د لیکونکی په اړه څو کرښیی :*** ***اركادی دوب نوب*** ***دمینځنی آسیا اودافغانستان دچارو اود سیاسی مسا یلو یوه متخصص او کارپوه دی .***

***--------------------------------- په سلامونو  «20-11-2018»***